DATE:________ M T W T F S

د خوشحال په شاعرۍ کښې د آزادۍ، پښتونولۍ او ټولنیز څه رنګه څرګنده دے ؟

## د خوشحال بابا پېژندګلنه

Introduction should be provided first

خوشحال بابا نوم خوشحال خان خټک وو او په 1613ء کښې د شهباز خان کره په اکوړې کښې پیدا شوے وو۔ خوشحال بابا د ښکار سره ډېر شوق وو او په دغه وجې ئې تعلیم هم سر ته نه کړې شو خو بیا هم د خپل تجربې او مشاهدې په رڼا کښې د لویو لویو عالمانو په صف کښې لوړ اوچت مقام لرلې۔

## د خوشحال بابا ابتدائي ژوند:

خوشحال بابا ته په میراث کښې درې څیزونه ملاؤ شوې وو۔

(1) سرداري۔

(2) شجاعت یعني بهادري۔

(3) د پښتنو مشرواليٰ۔

په دې وجه خوشحال بابا د مغلو سره ډېر تعاون کړے وو ځکه چې د پلار نه ورته د مشرواليٰ په وراثت کښې ملاو شوې وو۔ خو بیا د رنتمبور قید نه واپسۍ سره د مغلو خلاف جنګ او د پښتون قوم یو والي کوششونه شروع کړل۔

## د خوشحال بابا شاعرۍ کښې د آزادۍ رنګ

خوشحال بابا فطري توګه باندې آزادۍ پسند او خوددار انسان وه ولې په دې وجه ئې تر ډېره وخته د مغلو د حکومت لاندې ژوند نه تیرو۔ او د آزادۍ او خودداري دې صفتونو په وجه بقول عمر ئې پښتون قام ته هم دغه درس ورکړے دے چې د مغلو سره دوستي چرته هم نه شي کامیابېدے۔

پښتون به مغل سره دوست نه شي
خوشحال ئې په سینه داغ کړامونه

په دې رنګه خوشحال په خپله شاعرۍ کښې د پښتون قوم ته دا څرګنده وي چې د مغلو اکرام او نه د دوستۍ نښه نه ده بلکه د جدائۍ او د نااتفاقۍ سبب دے. او هم په دې وجه چې کله چې د مغلو مشروالي پر پښتو وه نو داسې ئې د خپلو جذباتو اظهار کړے وۀ.

د مغلو منصب مې لږ پښتو د هسې خوښېږم
بلکه خلاصي به بنده له بنده وان شي

Exaggerate it

د دې نه ښکاري چې خوشحال نه خپله بلکه د ټولو قوم د پاره آزادي غوښته وه. او په دې وجه ئې د ننګ او د غیرت نه ډک درس نه پښتو ته وراندې کړې دې.

د افغان په ننګ مې وتړله توره
زه ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم

## د خوشحال بابا شاعرۍ کښې د پښتونولۍ رنګ

خوشحال بابا د ننګ، غیرت او پت صرف شاعري نه ده کړې بلکه په خپل ژوند کښې عملي طور باندې د دې مظاهره کړې ده. او دا هم یاد ساتل پکار دي چې خوشحال بابا خپله پښتونولي صرف د خپل ژوند حصه نه جوړول غوښتل بلکه پښتون قوم رهبري او مشرواله په توګه ئې خپل حق ادا کړے دے. د خوشحال پښتونولي د حسن سلوک، همدردۍ، د رښتیا ویلو او د دروغو نه ځان ساتلو سره سره د یووالي او اتفاق هم درس ورکوي.

خلقو سره نېک خواهۍ باره کښې داسې وائي:

چې د خلقو نېک خواهي لري په زړه کښې
مبارک دې شه یا د شاهي لري په زړه کښې

د حسن سلوک او همدردۍ باره کښې ئې داسې وائي

هر چې ستا زړه کړي هغه کړه
څو چې زړه د چا ورپورې خفه مه کړه

د خوشحال ژوند د حق ګوئۍ ښو عملي نمونه وه:

چې دروغ تر خولې اوباسې کله خوله ده
چې رښتیا تر خولې اوباسې خوله هغه ده

د محبت کولو باره کښې وايي:

که محبت کا په اخلاص د زړه ژړې ځامن یم
که سړے په خپل مقصد نه شي کامران

# د خوشحال شاعرۍ کښې د ټولنیز شعور

کله چې مغلو د زراو د زور باسې جوړه کړه نو خوشحال پښتون قوم خبردار کړو چې د مغلو دوستي صرف د ښو مقصد له وي. ځکه چې د خوشحال د ژوند تجربې او مشاهدې نه هغه د زړه کړې وه چې د مغلو قول او فعل کښې تضاد دے. خو بیا هم افسوس چې په دې کړې دے چې پښتون قوم د منصب لوړه د انعام په لالچ کښې د مغلو په فریب کښې راغلے او داسې د خوشحال د پښتون قوم یو والي هغه مقصد نیمګړے پاتې شو.

هره لاره د پښتون تر مغله ښه ده
اتفاق ورسره نشته ډېر ارمان

د مغلو په انعامونو نازېدلو باره کښې وايي:

پښتانه لره لوی عیب دے که ئې ګوري
چې ناز بړي د مغلو په انعامونو لقبونو
لېونه ستون پښتانه په منصبونو خدای له ما ژغوري له داسې منصبونو

وايي د انعامونه یو دام دے.

دا منصب دا انعامونه
واړه زنځیر واړه دامونه

د خوشحال ژوند د تکلیفونو او مصیبتونو سره په دې غم کښې تېر شو چې پښتون قوم کښې اتفاق پیدا نه کړے شوه او پښتو نادر په دې دے او خپل ځان نه پېژني. په دې وجه خوشحال خپل کورنۍ کښې خپل ځوی بهرام نه هم بدې ږدې وشلې دی او ډېر ارماني دنیا نه ... 1689 کښې د دنیا نه لاړ

DATE:

M T W T F S

## خلاصه

مجموعاً دا چې د خوشحال شاعرۍ د آزادۍ نه جدا
رنګ لري او په دې رنګ کښې د هغه د پښتونولۍ او د پښتولنيز
شعور نه دے بېدار شوی بلکه د دې کوشش دوران کښې
د قوم بېدارولو او د رهبرۍ حق اداکولو سره سره
د معاشرتي (پښتولنيز) خرابيانو نه ځان ساتلو طريقې ئې
هم ئې ښودلي دي وه.

Introduction should be provided.
Exaggerate the explanation of the poetry.
Increase your length a little bit.

Overall, paper attempting is fine.